**د مسؤلیت درفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه:** ۱۸ **نېټه: ۹ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** د دارالانشاء عمومي ریاست په لاندې متن سره خپل وړاندیز د سترې محکمې محترمې عالي شورى د ۱۴۴۳/۸/۵ هـ ق نېټې جلسې ته وړاندې کړی و:

ځینو محکمو د ۱۴۴۳/۵/۲۹ هـ ق نېټې د (۱) ګڼه متحدالمآل د لومړي جزء (په هغه محکمو کې چې تجارتي دیوان نه وي، موضوعګانې یې د مدني دیوان مربوط کېږي) په اړه پوښتنه کړې ده چې آیا د یاد متحدالمآل له دې جزء څخه مراد د ولایت د مرکز اړونده موضوعات دي او که د ولسوالیو اړونده موضوعات هم په دې قید کې شامل دي؟

لنډه دا چې: هغه شمېر تجارتي موضوعات چې د اړونده ولسوالۍ په قضایي ساحه کې پېښېږي، د شرعي حل او فصل صلاحیت یې د ولسوالیو محکمو پورې اړه لري که د مرکز ښاري محکمې پورې؟

د دارالانشاء عمومي ریاست یادې موضوع ته داسې ځواب وړاندې کړی دی:

((دا چې دیوانونه یوازې په استیناف او ښاري محکمو کې شتون لري او په نورو محکمو کې دیوانونه نشته دي، که په کومه استیناف یا ښاري محکمه کې تجارتي دیوان نه وي، د دوی د تجارتي دیوان موضوعات په مدني دیوان پورې مربوط کېږي.

لنډه دا چې د ولسوالیو محکمې دیوان نه لري او ټول حقوقي او جزائي موضوعات چې د ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته راځي، یاده محکمه یې په لاندې ترتیب سره د حل او فصل صلاحیت لري:

ټول حقوقي موضوعات د مدعي علیه د استوګنې د سیمې ابتدائیه محکمه کې حل او فصل کېږي.

او ټولې جزائي قضیې د جرم د پېښېدو د سیمې په ابتدائیه محکمه کې حل او فصل کېږي. د اداري اصولنامې د (۱۱مې) مادې مطابق.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت درفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مگر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي توله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مگر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

البته له پورتني تفصیل څخه ځینې موضوعات مستثنی دي، لکه: که مدعي علیه یو نظامي شخص وي یا موضوع تبدیل شوې وي او یا هم جانبینو په خوښه یوې محکمې ته مراجعه کړې وي او داسې نور...

بناءً، کله چې مدعي په تجارتي موضوعاتو کې د مدعي علیه د استوګنې سیمې د ولسوالۍ ابتدائیه محکمې ته مراجعه وکړي، یاده محکمه یې د شرعي حل او فصل صلاحیت لري))

د ستري محکمې محترمې عالي شورى پورته لیکلې استهداء ته د دارالانشاء عمومي ریاست د ځواب په تړاو د ۱۴۴۳/۸/۵ هـ ق نېټې د (۳۹) ګڼه تصویب پر بنسټ داسې هدایت وکړ:

((د پورته لیکلې استهداء ځواب درست دی. د دارالانشاء ریاست دې دا ځواب د متحدالمآل په بڼه تمیزونو، دیوانونو او ټولو محکمو ته واستوي))

بناءً، پورته لیکلې استهداء ته د دارالانشاء عمومي ریاست ځواب، چې د پورتني ګڼه تصویب پر بنسټ د ستري محکمې د محترمې عالي شورى د تایید وړ ګرځېدلی، د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.